مؤسس: عبدالرووف بینوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

ورځپانه
هیواد

اسلامي امارت:

د ماشومانو د حقونو په اړه خپور شوی راپور له واقعیتونو لرې دی

د اسلامي امارت د ویاند مرستیال ملا حمدالله فطرت د ماشومانو د حقونو په اړه د یوې هالنډۍ موسسې وروستی راپور رد کړی او هغه یې «بې‌بنسټه او له حقیقتونو لرې» بللی دی.
فطرت ویلي، اسلامي امارت د ماشومانو د حقونو د خوندیتوب او هوساینې لپاره عملي او اغېزمن ګامونه پورته کړي او د روغتیا، زده‌کړو او ټولنیز ملاتړ په برخو کې ځانګړې پاملرنه کوي.
د نوموړي په وینا، په هېواد کې د ماشومانو د درنو او شاقه کارونو د مخنیوي قانون په جدي ډول پلي کېږي او اړوند اداري د ماشومانو د حقونو د تأمین لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.
هغه ټینګار کړی چې د افغانستان د ماشومانو وضعیت باید د هېواد د واقعي شرایطو او ترسره شویو اقداماتو پر بنسټ وارزول شي، نه د هغو راپورونو له مخې چې له میداني حقایقو سره بشپړ سمون نه لري.
دا څرګندوني داسې مهال کېږي چې د ماشومانو د حقونو د ملاتړ هالنډۍ موسسې «کېډز رایټس» د ۲۰۲۶ کال د ارزونې په خپل کلني راپور کې افغانستان د ماشومانو د حقونو له پلوه د نړۍ د ۱۹۴ هېوادونو په منځ کې په وروستي ځای کې راوستی دی.
یاده موسسه، چې خپل راپور د هالنډ د اراسموس روټردام پوهنتون په همکارۍ چمتو کوي، هېوادونه د ماشومانو د ژوند حق، روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی، زده‌کړې، ټولنیز ملاتړ او د ماشومانو د حقونو د عمومي وضعیت له مخې ارزوي.
د راپور له مخې، افغانستان د ۰.۲۱۴ نومرو په ترلاسه کولو سره په ۱۹۴م ځای کې راغلی، پاکستان په ۱۴۹م او ایران په ۸۶م ځای کې ځای پر ځای شوي، په داسې حال کې چې لوګزامبورګ او ایسلنډ د جدول په سر کې راغلي دي ...

۳مخ

شنبه | ۱۴۴۸/۰۱/۱۱ هـ ق | ۱۴۰۵/۰۴/۶ هـ ش | 2026/06/27 م | خصوصي ګڼه: ۷۰ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۴۲ مه | دوره: اتمه

نورالله نوري:

د اسلامي امارت مشرتابه د شریعت په پلي کولو کې په قاطعیت عمل کوي

د سرحدونو، قومونو او قبایلو وزیر نورالله نوري د هېواد د اتو ولایتونو له کوچیانو سره په ولسي غونډه کې وویل، چې د اسلامي امارت مشرتابه په دیني علومو کې ځانګړی مقام لري او د اسلامي شریعت په پلي کولو کې په ټینګه او قاطع توګه عمل کوي.
ښاغلي نوري ویلي: د خلکو د مشروع غوښتنو پوره کول او د هغوی د ستونزو حل د اسلامي امارت د مسئولینو له شرعي مسئولیتونو دي.ده ټینګار وکړ ، چې د هېواد د کوچیانو د ستونزو د حل او اړتیاوو د پوره کولو لپاره به اړینې هڅې دوام ولري.
د سرحدونو، قومونو او قبایلو وزیر ټینګار وکړ ،چې« د افغانستان قومونو شل کاله اور پر ځان ومنله، خو نه یې دین پرېښود او نه یې ...

۳مخ

د کندهار پوهنتون له بېلابېلو پوهنځیو څخه ۷۵۴ محصلین فارغ شول

د کندهار پوهنتون د ۱۱ پوهنځیو د ۷۵۴ محصلینو د فراغت مراسم د ګڼ شمېر حکومتي چارواکو، استادانو، د محصلینو د کورنیو او نورو مېلمنو په ګډون ترسره شول.
په دې مراسمو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري استول شوی پیغام ولوستل شو.
په پیغام کې د اسلامي نظام د پیاوړتیا، د دین د لوړتیا او د مسلمانانو د چارو د سم مدیریت پر اهمیت ټینګار شوی و. همداراز فارغو شویو محصلینو ته سپارښتنه شوې وه، چې د اسلامي نظام د شرعي موقف دفاع وکړي، د اسلامي امارت د قوانینو، احکامو او هدایاتو عملي کولو ته ژمن پاتې شي او نور هم ورته وهڅوي.
په پیغام کې راغلي، چې د اسلامي نظام د ساتنې او پیاوړتیا لپاره اطاعت، یووالی او ګډ کار اړین دي او د بې‌اتفاقۍ او بې‌اطاعتۍ له امله ټولنې او نظامونه له ستونزو سره مخ کېدای شي. همدارنګه له فارغانو غوښتنه شوې وه، چې د جهاد ارزښتونه او تاریخي اهمیت راتلونکو نسلونو ته هم انتقال کړي.

د مراسمو په ترځ کې د کندهار والي ملا شیرین اخند هم وینا وکړه او ویې ویل، چې د هېواد د علمي او دیني بنسټونو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ فضا نوره هم پیاوړې شوې ده. نوموړي له فارغو شویو محصلینو وغوښتل چې خپل ترلاسه کړی علم د دین، ملت او هېواد د خدمت ...

۳مخ

سرلیکنه

د روغتیا په برخه کې نوې همکاري

روغتیا د هرې ټولنې له اساسي اړتیاوو څخه ده. هر هغه اقدام چې د درملنې کیفیت لوړوي، د متخصصو ډاکټرانو شمېر زیاتوي او ناروغانو ته غوره خدمات رسوي، دا اقدام په حقیقت کې د خلکو د ژوند له کیفیت سره مستقیم تړاو لري. شته واقعیتونه دا په ډاګه کوي چې د هېوادونو ترمنځ روغتیایي همکارۍ او د متخصصو کادرونو تبادلې د ناروغانو د غوره درملنې لپاره اغېزمنې پایلې لري.
تازه د قزاقستان د روغتیا وزارت اعلان کړی چې د دغه هېواد یو متخصص طبي پلاوی افغانستان ته راغلی دی. د وزارت د معلوماتو له مخې، په دې پلاوي کې د بېلابېلو برخو متخصص ډاکټران شامل دي چې د درملنې او جراحي خدماتو د وړاندې کولو لپاره یې افغانستان ته سفر کړی دی. همدارنګه ویل شوي چې دغه متخصصین د پېچلو ناروغانو درملنه او جراحي عملیات هم ترسره کولای شي.
د دې سفر ارزښت په دې کې دی چې افغان ناروغان به د هېواد دننه د هغو متخصصو خدماتو له یوې برخې برخمن شي چې پخوا به یې د ترلاسه کولو لپاره بهرنیو هېوادونو ته د تګ اړتیا احساسېده.
د قزاقستان د متخصصینو حضور د افغان ډاکټرانو لپاره هم ارزښت لري. د ګډ کار، علمي تجربو او نوو طبي میتودونو شریکول کولی شي د روغتیایي کادرونو مسلکي وړتیا لا پیاوړې کړي. دا ډول همکارۍ د روغتیایي نظام د پرمختګ لپاره اوږدمهاله ګټې لري.
افغانستان په وروستیو کلونو کې د روغتیایي خدماتو د پراختیا لپاره بېلابېلې هڅې کړې دي. د روغتیایي مرکزونو پیاوړتیا، د تجهیزاتو برابرول او له بېلابېلو هېوادونو سره د روغتیایي همکاریو پراختیا د همدې هڅو برخه ده. د قزاقستان د متخصص پلاوي سفر هم د همدې همکاریو یوه عملي بېلګه ده.
د افغانستان او قزاقستان ترمنځ اړیکې اوس د اقتصادي او سوداګریزو برخو پورې محدودې نه دي. روغتیا، لوړې زده‌کړې او نور بشري سکتورونه هم د دواړو هېوادونو د همکاریو برخه ګرځېدلي دي. دا وضعیت د اړیکو د پراخېدو او د متقابلو همکاریو د زیاتېدو په برخه کې مهم اقدام دی.
د قزاقستان د متخصص طبي پلاوي سفر د افغان ناروغانو، روغتیایي کادرونو او د دواړو هېوادونو د اړیکو لپاره یو مثبت پرمختګ دی. که دا ډول همکارۍ دوام پیدا کړي، د روغتیایي خدمتونو کیفیت به لا ښه شي، د متخصصو تجربو تبادله به پراخه شي او افغان ناروغان به د غوره طبي خدماتو د ترلاسه کولو لا ډېر فرصتونه ومومي.

افغانستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا بهیر چټک شوی

د سوداګرۍ او پانګونې خونې او هندي چارواکو په نوي ډیلي کې په لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو پر پراختیا او د سوداګریزو خنډونو پر لرې کولو ټینګار کړی دی.
د سوداګرۍ او پانګونې خونې رئیس سید کریم هاشمي، هند ته د سفر پر مهال د افغانستان لپاره د هند د بهرنیو چارو وزارت له ځانګړي استازي آنند پرکاش سره لیدلي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د فرصتونو او ستونزو په اړه یې خبرې کړې دي.
د سوداګرۍ او پانګونې خونې په وینا، ښاغلي هاشمي په دې لیدنه کې د افغان سوداګرو لپاره د ویزو د بیا پیل هرکلی کړی.
د سوداګرۍ او پانګونې خونې د عامه اړیکو آمر، احسان الله احسان په دې اړه ویلي: « زموږ هڅه دا ده، چې د افغانستان سوداګریزې اړیکې او راکړه ورکړه له



بېلابېلو هېوادونو سره پراخه کړو او لازمي اسانتیاوې ...

۳مخ

چین-اوراسیا نندارتون د افغان سوداګرو په ګډون پرانیستل شو

د «چین-اوراسیا ۲۰۲۶» نړیوال سوداګریز نندارتون د چین د ارومچي ښار په کوربتوب پرانیستل شو، چې افغان سوداګرو هم پکې د خپلو تولیداتو او صادراتي توکو د نندارې لپاره فعال ...

۳مخ

کارپوهان:

د پلاستیک بې‌کچې کارونه د چاپېریال ککړتیا او روغتیایي ستونزو لامل کېږي

په کابل کې د پلاستیکي کڅوړو او یو ځل کارېدونکو لوښو کارول ورځ تر بلې زیاتېږي، چې ورسره د چاپېریال ککړتیا او روغتیایي زیانونو په اړه اندېښنې هم ډېرې شوې دي.
د کابل یو شمېر اوسېدونکي وايي، پلاستیک د ورځنیو اړتیاوو مهمه برخه ګرځېدلې، خو ډېری خلک د کارولو وروسته پلاستیکي کثافات په مناسب ځای کې نه غورځوي

۳مخ

سویس له افغانستان سره نږدې دوه میلیونه امریکایي ډالره بشري مرسته وکړه

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر (اوچا) اعلان کړی، چې سویس له افغانستان سره ۱.۹۵ میلیونه امریکایي ډالره بشري مرسته کړې ده.
اوچا د پنجشنبې په ورځ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې دغه مرسته د ۱.۵ میلیونه سویسي فرانکو معادل ده او د افغانستان بشري مرستو صندوق ته سپارل شوې، ترڅو د اړمنو او زیانمنو خلکو د ملاتړ لپاره ترې ګټه واخیستل شي.
سویس دا تازه مرسته به د بشري مرستو د پروګرامونو په پیاوړتیا او د بېړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول ولوبوي.
اوچا د سویس د مرستې هرکلی کړی او ویلي یې دي: «ستاسې دوامدار ملاتړ هغو خلکو ته بېرته هیله وربښي، چې ژوندونه یې د بېلابېلو بحرانونو او ناڅاپي پېښو له امله اغېزمن شوي دي.»
یادې اداري زیاته کړې، چې نړیوالې بشري مرستې نه یوازې د خلکو د عاجلو اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته کوي، بلکې د ټولنو د ثبات او هوساینې لپاره هم مهم ارزښت لري.
اوچا په پای کې ټینګار کړی: «موږ په ګډه د بشریت لپاره پانګونه کوو او د هغو خلکو ترڅنګ درېږو، چې مرستو ته اړتیا لري.»

بریښنا شرکت:

د ترکمنستان ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا لېږد پروژې دویمه برخه تر ۹۰ سلنې زیاته بشپړه شوې

د ترکمنستان د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا لېږد مزي پروژه، چې د هېواد د برېښنا سکتور له مهمو بنسټیزو پروژو څخه شمېرل کېږي، د دویمې برخې چارې یې ۹۰.۸ سلنه بشپړې شوې دي.
دغه برخه له شبرغان ښار څخه د بغلان تر الوان دښتې پورې غځېږي او د پروژې لومړۍ برخه لا دمخه بشپړه شوې ده.
د معلوماتو له مخې، د ۳۰۵ کیلومتره مزي له ټولیز اوږدوالي څخه ۲۰۲ کیلومتره غځول شوی، د ۷۷۵ برېښنا پایو له ډلې ۷۴۷ نصب شوي او د ۷۷۲ پایو بنسټونه ...

۳مخ

د څه باندې ۹۸ میلیونه افغانیو په ارزښت درې جوماتونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

ټولګټو چارو وزارت وايي، د غزني، کندهار او هلمند ولایتونو کې د دریو جوماتونو د جوړولو کار د څه باندې ۹۸ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ او پرانیستل یې وشوه. د یاد وزارت په خبرپاڼه کې راغلي، یاد جوماتونه د دوو کلنو په موده کې د غزني په آب‌بند، د کندهار په میوند او د هلمند په نادعلي ولسوالیو کې جوړ شوي دي.
د سرچینې د معلوماتو له مخې، هر جومات په درې جریبه ځمکه کې جوړ شوی چې په یو وخت د ۳۰۰ تنو (۱۷۰ نارینه او ۱۳۰ ښځینه) لمونځ‌کوونکو د ځایولو ظرفیت لري.
په خبرپاڼه کې زیاته شوې، یاد جوماتونه د وسایطو لپاره پارکینګ د ملا امام لپاره ...

۳مخ

د حقایقو او پېښو تر منځ لوی واټنونه

عبدالهادي روان

د ښښنې نړیوال سازمان وايي چې د امریکا او ایران ترمنځ د منځني ختیځ د وروستیو شخړو د پای ته رسولو لپاره شوې هوکړه باید یوازې د پوځي عملیاتو تر درولو محدوده نه وي، بلکې د بشري حقونو، حساب ورکولو او د قربانیانو لپاره د عدالت د تأمین جدي تضمینونه هم پکې شامل وي.

د دې سازمان سرمنشۍ، اګنیس کالامار، د واشنګټن او تهران ترمنځ د هوکړې په غبرګون کې ویلي چې دغه جګړه د امریکا او اسرائیلو د هغو ناقانونه بریدونوله امله پیل شوه چې د ملګرو ملتونو د منشور خلاف وو، او وروسته د ایراني لوري «د ناقانونه اقداماتو» په وسیله دوام وموند.

هغې زیاته کړه چې دغو نښتو د میاشتو میاشتو انساني کړاوونه او له بشردوستانه نړیوالو قوانینو جدي سرغړونې دي چې جنګي جنایتونه هم پکې شامل دي، رامنځته کړي دي. اصولاً نړیوال بنسټونه، د ښښنې نړیوال سازمان په ګډون، باید بشري موضوعات د عیني واقعیتونو او بې‌طرفۍ پر بنسټ وڅېړي او وروسته پرې قضاوت وکړي؛ داسې چې خپل حقوقي حیثیت او اعتبار وساتي او خپلې شننې او ارزونې د هېوادونو او پېښو له واقعي شرایطو سره سمې وړاندې کړي. همدارنګه اړینه ده چې د ټولو لورو حقونه د نړیوالو اصولو او قوانینو پر بنسټ انځور کړي.

له بده مرغه کله ناکله لیدل کېږي چې ځینې دغه بنسټونه د سترو قدرتونو د تبلیغاتي فضا تر اغېز لاندې راځي؛ هغو قدرتونه چې تر هر څه زیات خپلو پوځي او اقتصادي ګټو ته پام کوي. په پایله کې داسې راپورونه او دریځونه خپرېږي چې د حقیقت د انعکاس پر ځای د هماغو قدرتونو له ادبیاتو او غوښتنو سره ډېر ورته والی لري.

هر کله چې یو هېواد یا د هېوادونو یوه ډله د ملګرو ملتونو د منشور خلاف عمل وکړي / هغه منشور چې د سولې، ثبات او سوله‌ییز ګډ ژوند ساتنه خپل اساسي هدف ګڼي / نو طمعه دا ده چې نړیوال بنسټونه په لومړیو شېبو کې دا ډول کړنې وغندي او د بحران د پراخېدو د مخنیوي لپاره سوله‌ییز ګامونه پورته کړي. که دا هڅې پایله ورنه کړي، باید د بېړنیو غونډو له لارې او د ټولو غړو هېوادونو د نظرونو په راټولولو سره د تاوتریخوالي او د تشنج د مهارولو لپاره لازم تدابیر ونیول شي او

سره له دې، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اوسنی جوړښت هم تل تر نیوکو لاندې پاتې شوی دی.

د دغې شورا پنځه دایمي غړي چې د دویمې نړیوالې جګړې له پای وروسته د هغه وخت د پوځي ځواک د لرلو او د لویې نړیوالې جګړې د لویو لوبغاړو په وجهه یې ځانګړی مقام او د ویټو امتیاز ترلاسه کړ، لا هم له هماغو امتیازاتو برخمن دي چې ډېری هېوادونه یې ناعادلانه بولي. له همدې امله، په ډېرو نړیوالو کړکېچونو کې د دغو قدرتونو مداخلې او سیالۍ د نړیوالو پرېکړو پر بهیر سیوري غوړوي.

د ښښنې نړیوال سازمان د سرمنشي په څرګندونو کې هم دا تناقض لیدل کېدای شي، داسې چې له یوې خوا پر ایران د امریکا او اسرائیلو بریدونه د ملګرو ملتونو د منشور خلاف او ناقانونه بلل کېږي، خو له بلې خوا د ایران دفاعي اقدامات هم په هماغه چوکاټ کې ناقانونه ګڼل کېږي. دا ډول دریځ د ډېرو څارونکو او اهل نظر خلکو لپاره د منلو وړ نه دی، ځکه د عدالت په منطق کې د تېري کوونکي او د خپل ځان د دفاع کوونکي ترمنځ توپیر موجود وي، حتی د منطق د ساده اصولو له مخې هم. د هرې شخړې د ارزونې لپاره باید اصلي علت او لامل وپېژندل شي. د تجاوز پیل کوونکی باید د بحران اصلي مسئول وپېژندل شي او وغندل شي، او هغه لوری چې په ناخواسته توګه جګړې ته کش کړی شوی او د ځان دفاع ته اړ شوی وي، باید د هماغه معیار له مخې ونه سنجول شي. که داسې وشي، نو ظالم او مظلوم په یوه تله تلل کېږي او عدالت خپل مفهوم له لاسه ورکوي.

همدارنګه که د خلکو یوه ډله د بهرني دښمن په لمسون او ملاتړ د خپل هېواد د امنیت، نظم او ثبات پر ضد اقدام وکړي او عامه زیربناوې، ښوونځي، روغتونونه، جوماتونه او نور عامه تأسیسات ویجاړ کړي، نو طبیعي ده چې د هماغه هېواد حکومت به هغوی د دښمن همکاران وګڼي. له دغو کسانو سره د چلن څرنګوالی هم د هماغه هېواد د کورنیو قوانینو او قضایي نظام تابع وي. له همدې امله، د موجودو شرایطو، قوانینو او واقعیتونو ته له پاملرنې پرته د محکمو د پرېکړو بشپړ ردول، د موضوع د پیچلتیاوو له پامه غورځولو سره برابر دي.

په پای کې باید ټینګار وشي چې د شخړو مهارول او د ظلم مخنیوی هغه وخت شوني دي چې عدالت د روښانو او منطقي معیارونو پر بنسټ پلی شي؛ داسې چې تېری کوونکی، تېری کوونکی وبلل شي او د خپلو کړنو مسئولیت ومني، او د مظلوم هم لازم ملاتړ وشي.

موږ نه ایرانیان یوو، نه امریکایان او نه هم صهیونیستان؛ خو دغو ټولو سره ګډې وجهې لرو او هغه انسانیت دی. فلسطین، غزه، لبنان، ایران، عراق او کوبا او ونزویلا او د نړۍ هره بله سیمه د هغو انسانانو د ژوند ځای دی چې حق لري په امنیت، عزت او ارامۍ کې ژوند وکړي. هېڅ ملت باید د ظلم او تېري قرباني نه شي او که قرباني کېږي، نو بشري ټولنه مکلفه ده چې د هغه ملاتړ وکړي.

لکه څنګه چې د سعدي شیرازي دا تلپاتې بیتونه د ملګرو ملتونو د ودانۍ پر دېوال هم لیکل شوي دي:

بني‌آدم اعضای یکدیگرند
که در آفرینش ز یک گوهرند
چو عضوی به درد آورد روزگار
دگر عضوها را نماند قرار
تو کز محنت دیگران بی‌غمی
نشاید که نامت نهند آدمی

د ظلم او تېري د له منځه تلو، او په ټوله نړۍ کې د عدالت، سولې او سوله‌ییز ژوند د ټینګېدو او د هر ډول استعمار او استثمار او استکبار د محو کېدلو په هیله.

ابن جریر طبری رحمه الله وايي

بهادر حنیف

د حج په موسم کې په مکه مکرمه کې وم. یو سړی مې ولید چې د خراسان و، په لوړ غږ یې اعلان کاوه: اې د حج حاجیانو! اې د مکې اوسېدونکو او راغلو مېلمنو! زما یوه کڅوړه ورکه شوې چې زر دیناره پکې وو. څوک چې یې راته وسپاري، الله تعالی دې ورته غوره بدله ورکړي، له دوزخه دې یې خلاص کړي او د قیامت په ورځ دې د اجر او ثواب څښتن شي.

یو سپینږیری د مکې اوسېدونکی ورپاڅېد او ورته ویې ویل:

- اې خراسانیه! زموږ د ښار اقتصادي حالت سخت دی، د حج ورځې لږې دي، د کار او روزۍ لارې تنګې دي. کېدای شي دا کڅوړه د کوم بېوزلي، دیندار او بوډا سړي لاس ته ورغلې وي. که هغه یې تا ته وسپاري، ښایي ته د منني په توګه ورته لږ حلال انعام ورکړې.

خراساني وویل: - څومره انعام غواړې؟

سپینږیري وویل: - د مال لسمه برخه، یعنې سل دیناره.

خراساني ونه منله او ویې ویل:

- هېڅکله! زه دا کار نه کوم، خپله دعوه الله ته سپارم، د قیامت په ورځ به یې هغه ته وړاندې کړم، او الله زموږ لپاره بس دی، هماغه غوره وکیل دی.

ابن جریر وايي:

زما په زړه کې دا تېر شول چې ښایي همدا سپینږیری ډېر غریب وي او کڅوړه یې موندلې وي، ځکه د لږ انعام هیله لري. نو ورپسې روان شوم، تر دې چې خپل کور ته ننوت.

هلته مې واورېدل چې خپلې مېرمنې ته یې غږ وکړ:

- اې لبابې!

هغې ځواب ورکړ: - حاضر یم، اې ابو غیاثه!

هغه وویل:

- د دینارو خاوند مې پیدا کړ، خو نه غواړي د موندونکي لپاره هېڅ انعام وټاکي. ما ورته وویل سل دیناره راکړه، خو ویې نه منل. اوس څه وکړم؟

مېرمنې یې وویل:

- اې سړیه! موږ پنځوس کاله کېږي چې له تا سره د بېوزلۍ ژوند تېروو. څلور لوڼې لرو، دوه خویندې دې، زه او زما مور هم یو؛ ټول نهه کسان یو. نه پسونه لرو، نه روزي. دا مال له ځانه سره وساته، زموږ لوږه پرې ماته کړه، جامې راته واخله. وروسته چې الله شتمن کړې، بیا یې خاوند ته وسپاره، یا به الله ستا پوروونه ادا کړي.

سپینږیري وویل:

- ایا زه به په دې زوړ عمر حرام مال وخورم؟ ایا خپل نس به د دوزخ په اور وسوځوم، وروسته له دې چې دومره کلونه مې پر فقر صبر کړی؟ نه، په الله قسم، هېڅکله دا کار نه کوم.

ابن جریر وايي:

زه د دوی د خبرو په حیرانتیا کې بېرته ستون شوم.

سبا بیا هغه خراساني هماغه اعلان کاوه.

سپینږیری ورغی او ورته ویې ویل:

- ما پرون درته وویل سل دیناره انعام ورکړه، ونه دې منل. نو لږ تر لږه لس دیناره ورکړه، چې د موندونکي عزت وساتل شي او د هغه د کورنۍ یو څه اړتیاوې پرې پوره شي.

خراساني بیا هم ونه منله او ویې ویل:

- زه خپل کار الله ته سپارم او شکایت به هم هغه ته کوم.

درېیمه ورځ هم همدا اعلان تکرار شو.

سپینږیري وویل:

- که سل دیناره نه ورکوې، لس هم نه ورکوې، نو لږ تر لږه یو دینار خو ورکړه، چې نیم په اړتیاوو ولګوي او په نیم بل څه واخلي، له هغه څخه روزي پیدا کړي او خپل اولادونه پرې وساتي.

خراساني بیا هم وویل:

- هېڅ نه ورکوم، خپله دعوه الله ته سپارم.

نو سپینږیري د هغه لاس ونیو او ویې ویل:

- راځه! خپل مال دې واخله او ما پرېږده چې د شپې په ارام ویده شم؛ له هغې ورځې چې دا مال مې موندلی، زړه مې بې قراره دی.

ابن جریر وايي:

زه هم ورپسې ورغلم. سپینږیري خپل کور ته ننوت، ځمکه یې وکیندله، د دینارو کڅوړه یې راوایسته او ویې ویل:

- دا دې مال، الله تعالی دې زما ښښنه وکړي او له خپل فضل څخه دې روزي راکړي.

خراساني کڅوړه واخیسته او د وتلو په وخت کې یې وویل:

- اې سپینږیریه! زما پلار چې وفات شو، درې زره دیناره یې راته پرېښودل او وصیت یې وکړ چې د هغو درېیمه برخه د تر ټولو مستحق انسان په لټه کې ولګوم. ما هم دا زر دیناره له خراسانه تر دې ځایه راوړل، څو مستحق کس پیدا کړم. په الله قسم! له خراسانه تر مکې پورې مې ستا په شان د امانت، تقوا او صبر خاوند ونه موند. دا زر دیناره واخله، الله دې درته برکت درکړي او ستا د امانت او زغم غوره بدله دې درکړي.

دا یې وویل او روان شو.

سپینږیري په ژړا شو او ویل یې:

الله دې د دې مال پر خاوند (یعنې د خراساني پر پلار) رحم وکړي، په قبر کې دې پرې رحمت وکړي، او الله دې د هغه زوی ته هم برکت ورکړي.

الله تعالی فرمايي:

(ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ)

ژباړه: «دا نصیحت هغه چا ته ګټور دی چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان لري. او څوک چې له الله څخه ووېرېږي، الله به ورته د ستونزو د خلاصون لار پیدا کړي، او له داسې ځایه به روزي ورکړي چې ګومان یې هم نه وي.»

یادونه: دا کیسه د ابن الجوزي په کتاب «مرآة الزمان» کې نقل شوې ده. د دې روایت د سند په اړه د حدیث د علماوو ترمنځ بحث شته، نو د شرعي حکم یا عقیدې د دلیل په توګه نه، بلکې د امانتدارۍ، تقوا او د الله پر وعدې د باور د یو اخلاقي حکایت په توګه لوستل مناسب دي.

پروان کې د اوبو رسولو شېړو شبکو د جوړولو چارې پیل شوې

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت، په پروان کې د اوبو رسولو شېړو شبکو د جوړولو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی.

د یاد وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د پروان د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د دغه ولایت په مرکز، بګرام او جبل السراج ولسوالیو کې د څه باندې ۴۲ میلیونه افغانیو په لګښت؛ د اوبو رسولو شېړو شبکو د جوړولو چارې پیل شوې دي.

ویل شوي، چې په یادو شبکو کې د شېړ څاګانو کیندل، د پاکو اوبو شېړو ذخیرو جوړول، د ۴۱ کیلومترو په اوږدوالي د پایپ غځول، د ۱۴۱۳ شیردانونو او ۲۱۶ سولر تختو نښلول شامل دي.

هېره دې نه وي، چې د یادو شبکو د تطبیق په بهیر کې به لسګونه کسانو ته د کار زمینه برابره شي او به بشپړېدو سره به یې د مرکز او نوموړیو ولسوالیو ۲۲۱۸ کورنۍ د څښاک اوبو ته لاسرسی پیدا کړي.

راشدخان او عظمت‌الله عمرزي د ای‌سي‌سي تازه درجه‌بندۍ کې لومړي مقامونو خپل کړي

د کرېکټ نړۍ‌والې شورا (ICC) د شل‌اوریزو او یو ورځنیو لوبو د لوبغاړو په تازه درجه‌بندۍ کې افغان لوبغاړي ځلېدلي؛ توپ‌اچوونکو کې راشدخان او الراونډرانو کې عظمت‌الله عمرزي لومړي مقامونه خپل کړي دي.

د کرېکټ نړۍ‌والې شورا د یو ورځنیو لوبو د توپ‌اچوونکو په تازه درجه‌بندۍ کې راشدخان ۶۸۲ د نومرو په ترلاسه کولو سره په لومړي ځای کې راغلی دی.

همدارنګه د شل‌اوریزو لوبو د توپ‌اچوونکو په تازه درجه‌بندۍ کې راشدخان بیا د ۷۵۳ نومرو په ترلاسه کولو سره لومړی مقام خپل کړی دی.

د کرېکټ نړۍ‌والې شورا د یو ورځنیو لوبو الراونډرانو درجه‌بندۍ کې بیا عظمت‌الله عمرزی په لومړي مقام کې راغلی او محمدنبي له درېیم مقامه څلورم ته ښکته شوی دی.

دغه‌راز، د یو ورځنیو لوبو د توپ‌وهونکو په تازه درجه‌بندۍ کې ابراهیم ځدراڼ پنځم ځای خپل کړی دی.

افغان اعلانات

اطلاعیه نشر انتقال دفتررهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات روزی خان بشرمل دارنده جواز شماره ۴۹۹۱ به اسم محترم روزی خان فرزند عبدالستار ولدیت محمد اعظم واقع ناحیه ۵ ایستگاه شفاخانه موقعیت دارد ومیخواهد به ساحه سرک بلاک های جدید ناحیه ۵ شاروالی کابل نقل نکان نماید بنا به آگاهی شما رسانیده شد.۳۰۰۶

اطلاعیه لیلام

موسسه بین المللی پاملرنه (CARE) که دارای راجستریشن نمبر ۲۲ مورخ ۱۳۸۴/۶/۱۰ و ثبت راجستر ریاست انجوهای وزارت محترم اقتصاد می باشد به حیث یک موسسه غیر دولتی، غیر وابسته و بی طرف از سال ۱۹۶۱ بدین سو در افغانستان و به منظور پیشبرد پروژه های انکشافی و عرضه خدمات غیر انتفاعی فعالیت می نماید.

موسسه متذکره در نظر دارد به تعداد (۸۷۵) قلم تجهیزات استهلاک شده خویش را به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۱۰ به لیلام بگذارد. افراد و اشخاص که خواهش اشتراک در پروسه را داشته باشند به آدرس : ناحیه ۱۵ ، قصبه، نبش سرک موتر فروشی ها عقب پوسته امنیتی. گدام های موسسه پاملرنه تشریف بیاورند و یا جهت معلومات بیشتر به شماره تماس ۰۷۷۳۴۷۰۰۳ به تماس شوند.۲۹۹۵

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۲۳۶۱- ۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالحنان فرزند عبدالغفور بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۹۷۳

اطلاعیه تغیر مکان رهنمای معاملات

اطلاعیه تغیر مکان رهنمای معاملات دفتر رهنمای معاملات عارف غزنوی به اسم محترم عارف فرزند داود شاه ولدیت وزیر واقع کنار مسجد انبیا ناحیه ۷ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه مقابل مسجد انبیا ناحیه ۶ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۲۹۷۷

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست اجرائیوی شرکت امارتی نساجی افغان،از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تدارک یک عراده کرند مارک هینو تولید ۱۹۹۶ با مشخصات (جرثقیل دار، سه و نیم تن ، پنج شافت) اشتراک نموده،یک نقل شرطنامه مربوطه را طور هارد در بدل مبلغ ۱۰۰۰ یک هزار افغانی پول بدون بازگشت از تاریخ نشر الی ۲۵ یوم از مدیریت عمومی قرار داد های نساجی افغان واقع چوک پوهنتون تعلیم و تربیه ، سرک عمومی خوشحال خان ، ساحه الف کوچه حسن عسکری خانه نمبر ۲۹ بدست بیاورند. جلسه داوطلبی آن بشکل آفر سر بسته به روز بیست و ششم ساعت ۱۱ یازده بجه قبل از ظهر در مقر این ریاست تدویر می گردد.۲۹۸۷

اطلاعیه تغیر مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات املاک جدید به اسم محترم شجاع الدین فرزند سراج الدین ولدیت عبدالروف واقع سرک ۴ پروژه تامینی مقابل لیسه ملکه ثریا ناحیه ۴ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه مکتب سیدالناصری ذکور ناحیه ۱۱ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۲۹۷۴

اطلاعیه مفقودی مهردواخانه

محترم عزت الله اوریا فرزند نعمت الله اوریا ولدیت میر گل اوریا دارنده تذکره نمبر (۱۱۴۵۰- ۰۱۰۱ -۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانه ظفر واقع ناحیه پنجم ولایت کابل عنوانی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۹۸

اطلاعیه لیلام ۱۵ قلم اجناس داغمه جات

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه میخواهد ۱۵ اقلام اجناس داغمه خویش رابه تاریخ ۹/٤/۱٤۰٥ لیلام نماید

شرکت ها، اشخاص و افراد یکه خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ فوق الذکر ساعت ۹ بجه قبل ازظهر به شرکت هوخست پهلوی شفا خانه هزار بستر معتادین واقع ناحیه نهم مراجعه و به مجلس داوطلبی اشتراک نمایند.

۱۵٪ فیصد پول نقدآ اخذ میگردد.

اطلاعیه لیلام

ریاست خدمات ریاست عمومی دفتر ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، تعداد (۱٤٤) عراده وسایط خویش را به تاریخ ۱٤۰٥/٤/۱۳ ساعت ۹:۰۰ قبل از ظهر به محضر هیئت مؤظف وزارت محترم مالیه لیلام می نماید. اشخاص انفرادی و شرکت های تجارتی که خواهش خریداری آنرا داشته باشند، میتوانند در جلسه مزایده اشتراک نمایند و مبلغ (۱۵) فیصد پول تضمین طور پیشکی از نزد شان اخذ میگردد.

داوطلبان میتوانند جهت معلومات مزید به شماره (۰۷۹۹۳۷۵۵۵۵) و یا (۰۷٤٤٦۳٥۱۲٤) در تماس شوند.

آدرس: افغانستان، شهر کابل، سرک عمومی پلچرخی، ساحه پکتیاکوت، داخل کوچه جلب و جذب، کمپ وطن.

اطلاعیه لیلام

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه میخواهد ۱۵ اقلام اجناس داغمه خویش رابه تاریخ ۷/٤/۱٤۰٥ لیلام نماید

شرکت ها، اشخاص و افراد یکه خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ فوق الذکر ساعت ۹ بجه قبل ازظهر به شرکت هوخست پهلوی شفا خانه هزار بستر معتادین واقع ناحیه نهم مراجعه و به مجلس داوطلبی اشتراک نمایند.

۱۵٪ فیصد پول نقدآ اخذ میگردد.

اعلان داوطلبی

«وزارت ترانسپورت و هوانوردی، مساحت ۱۲ مترمربع یکباب دکان واقع منزل دوم ترمینل بین المللی و یکباب گدام اموال مربوطه به مساحت ۱۵ مترمربع واقع جوار گمرک میدان هوائی بین المللی کابل را به منظور فعالیت خوراکه فروشی و فروش تولیدات وطنی به اجاره می دهد. اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش به إجاره گرفتن مساحت متذکره را از طریق روند مزایده داشته باشند می توانند از تاریخ نشر اعلان تا ۱۰ روز، درخواستی خویش را به آمریت املاک هوانوردی و هواشناسی - ریاست املاک و خدمات وزارت ترانسپورت و هوانوردی، واقع انصاری وات - شهر کابل بسپارند. «

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز موسسه فرهنگی و هنری فیلم سازی به اسم منصور آریا فرزند عبدالوکیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۰۰۰

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی دکان واقع ناحیه ۱۳ برچی به اسم حوریه بنت غلام سخی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۹۳

د ماشومانو د حقونو په اړه ...

په راپور کې ادعا شوې چې جګړې، ناامنۍ، اقتصادي ستونزې او ټولنیز بدلونونه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د ماشومانو پر هوساینې او حقونو منفي اغېزې کړې او د ماشومانو د حقونو د خوندیتوب بهیر یې له ننګونو سره مخ کړی دی.

د اسلامي امارت مشرتابه ...

جهاد ته شاکړه. هغوی وویل چې خپلې مبارزې ته به دوام ورکوو او خپلې وینې به قربانۍ ته وړاندې کوو. دا ملت د مینې وړ دی، ان زموږ د وینو ارزښت هم پېژني.»

په همدې حال کې، په دې غونډه کې ګډونوالو د کوچیانو مشرانو د اسلامي نظام ثبات د افغانستان د عزت او سرلوړۍ لامل وباله او په بېلابېلو برخو کې یې له اسلامي نظام سره د خپلې همکارۍ او ملاتړ پر دوام ټینګار وکړ.

د غزني اوسېدونکی، رمضان کوچی هم وایي: « لکه څنګه چې د انګرېزانو، روسانو او د شل کلنې دورې پر مهال، چې کفار افغانستان ته راغلي وو، د کوچیانو قوم له هیڅ ډول امتیاز او امکاناتو پرته د افغانستان، خاورې او اسلامي امارت دفاع کړې، زه داډ درکوم چې بیا به هم دفاع وکړي.»

دغه غونډه په کابل کې د کابل، پروان، لوګر، کاپیسا، پنجشېر، بامیان، غزني او میدان وردګو ولایتونو د قومي مشرانو، دیني عالمانو او د کوچیانو د مخورو په ګډون جوړه شوې وه.

د کندهار پوهنتون له بېلابېلو ...

لپاره وکاروي او د اسلامي او افغاني ارزښتونو د ساتنې ترڅنګ د ټولنې په پرمختګ کې هم فعاله ونډه واخلي.

د یادونې وړ ده چې سږ کال د کندهار پوهنتون د ۱۱ پوهنځیو له بېلابېلو څانګو څخه ټولټال ۷۵۴ محصلین فارغ شول، چې د هېواد د علمي او مسلکي کادرونو د پیاوړتیا په برخه کې مهم ګام بلل کېږي.

افغانستان او هند ترمنځ ...

برابرې کړو، ترڅو د همکاریو او سوداګریزو تبادلو کچه لا نوره هم لوړه شي.»

ښاغلي هاشمي همدارنګه د توکو د لېږد لوړ لګښتونه، د محمولو د لیږد ځنډ، د چابهار بندر شته ستونزې، د پیسو د لېږد ننګونې او د صادراتي کانټینرونو درول د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ مهم خنډونه بللي دي.

په مقابل کې، د هند د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي آنند پرکاش ډاډ ورکړی، چې نوی ډیلي به د سوداګریزو ویزو د صادرولو د بهیر په اسانه کولو کې همکاري وکړي.

په پای کې، دواړو لورو د اقتصادي همکاریو د دوام، د سوداګرۍ او پانګونې پر وړاندې د شته خنډونو د لرې کولو او د کابل او نوي ډیلي ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پراخولو پر اړتیا ټینګار کړی دی.

چین-اوراسیا ننداړتون ...

ګډون کړی دی. په دې ننداړتون کې د افغانستان د سوداګرو له لوري له ۳۰ څخه زیاتې غرفې جوړې شوې دي، چې پکې افغاني غالۍ، زعفران، وچه مېوه، قیمتي او نیمه‌قیمتي ډبرې او نور کورني تولیدات ننداري ته وړاندې شوي دي.

افغان سوداګر دغه ننداړتون د هېواد د تولیدي ظرفیتونو د معرفي کولو، د صادراتو د زیاتوالي او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره یو مهم فرصت بولي. د دوی په باور، دا ډول نړیوالې غونډې کولی شي د افغانستان د تولیداتو لپاره نوي بازارونه پرانیزي او د سوداګریزو اړیکو په پراختیا کې اغېزمن رول ولوبوي.

سوداګر محمدنعیم پوپل وایي: «دغه ننداړتون د افغانستان د لاسي صنایعو، زعفرانو او وچو مېوو د معرفۍ لپاره غوره فرصت دی او موږ کولای شو نړۍ ته وښیو چې افغانستان د لوړ کیفیت لرونکي تولیدات لري.» همداراز، بل افغان سوداګر حامد رؤوف د افغان سوداګرو د لا پراخ ګډون غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې په راتلونکو کلونو کې باید د ګډون اسانتیاوې زیاتې شي، څو د هېواد لا ډېر سوداګر وکولای شي په دغو نړیوالو ننداړتونونو کې برخه واخلي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت هم وایي، په دې ننداړتون کې د افغانستان د ګډون موخه د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو پراخول، د هېواد د پانګونې فرصتونو معرفي کول او د بهرنیو پانګونو راجلبول دي.

د اقتصادي چارو شنونکي باور لري چې افغان پلاوی باید له دې فرصت څخه د خپلو تولیداتو د معرفۍ تر څنګ د چینایي شرکتونو او پانګوالو سره د اقتصادي همکاریو، پانګونې او ټکنالوژۍ د انتقال په برخو کې هم ګټه پورته کړي، څو په هېواد کې د تولید او سوداګرۍ د لا ودې زمینه برابره شي.

د یادونې وړ ده چې د «چین-اوراسیا» ننداړتون د سیمې له مهمو اقتصادي او سوداګریزو غونډو څخه شمېرل کېږي او هر کال د چین په ارومچي ښار کې د سوداګرۍ، پانګونې او سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه ترسره کېږي.

د پلاستیک بې‌کچې ...

چې د ښار د ککړتیا لامل کېږي.

د چاپېریال ساتنې کارپوهان خبرداری ورکوي، چې پلاستیک په طبیعت کې ډېر ورو تجزیه کېږي او ښایي سلګونه کاله پاتې شي. د وخت په تېرېدو سره دا په کوچنیو ذراتو یا «مایکروپلاستیک» بدلېږي، چې خاوره او اوبه ککړوي او د خوړو له لارې د انسان او حیوان بدن ته داخلېږي.

روغتیاپالان وایي، مایکروپلاستیک د څښاک اوبو، خوراکي توکو او پلاستیکي لوښو له لارې بدن ته رسېږي او د سرطان، هاضمې ستونزو او ځینو نورو ناروغیو خطر زیاتولی شي.

بلخوا، د کابل ښاروالۍ وایي ، چې د پلاستیکي کثافاتو د راټولولو او بیا کارونې لپاره هڅې روانې دي او د عامه پوهاوي پروګرامونه هم عملي کېږي.

کارپوهان ټینګار کوي چې د پلاستیکي کڅوړو پر ځای د ټوکرینو کڅوړو کارول، د پلاستیک مصرف کمول او د کثافاتو سمه مدیریت د چاپېریال او د انسان د روغتیا د ساتنې لپاره مهم ګامونه دي.

د ترکمنستان ۵۰۰ کیلوولټ ...

بشپړ شوي دي. د پروژې درېیمه برخه د بغلان له الوان دښتې څخه د کابل تر ارغندۍ سب سټېشن پورې د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري پلې کېږي او په بشپړېدو سره به کابل او یو شمېر نور ولایتونه له دوامدارې او باورې برېښنا څخه برخمن شي.

د څه باندې ۹۸ میلیونه ...

د استوګنې ځانګړی ځای، د نارینه او ښځینه لمونځ‌کوونکو لپاره جلا د اوداسه او لمانځه جلا ځایونه جوړ شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د اسلامي امارت د مشرتابه د حکم پر بنسټ، د ټولګټو وزارت له لوري د کابل - هرات لویې لارې په اوږدو کې د ۱۴ جوماتونو د جوړولو چارې پیل شوی دی.

محصلین دې خپلې ...

څخه د ۱۲۵ محصلینو د فراغت خبر هم ورکړی او ویل شوي، چې دغو محصلینو د یاد پوهنتون شرعیاتو، اقتصاد، کرنې او ښوونې اوروزنې پوهنځیو له یوولسمې دورې څخه د فراغت سندونه ترلاسه کړي دي. د سرچینې په وینا چې دا محصلین د ځانګړو مراسمو پرمهال د ځایي مسئولینو او د پوهنتون استادانو له لوري ستایل شوي او هېواد ته د رښتیني خدمت سپارښتنې ورته شوې دي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ...

په اړه معلومات وړاندې کړل او د علمي، فرهنګي او هنري همکاریو د لا پیاوړتیا ډاډ یې څرګند کړ.

سرچینه زیاتوي، د غونډې په پای کې دواړو لورو د ماشومانو او ځوانانو د فکري او فرهنګي ودې او د دوامدارو ګډو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ.

د خواجه‌غار ـ دشت کلا سړک ...

ورو پرمختګ د هغوی تګ راتګ له ستونزو سره مخ کړی دی. د دوی په وینا، په ځینو سیمو کې خلک او موټرونه اړ دي ، چې له فرعي لارو او کرنیزو ځمکو څخه تېر شي، چې دا کار نه یوازې دورې او ککړتیا زیاتوي، بلکې د لګښتونو د لوړېدو او د وسایطو د ژر زړېدو لامل هم ګرځي.

د دغې لارې یوه موټرچلوونکي شیرآغا ویلي: «له ګڼو ستونزو سره مخ یو. لاره اوږده شوې او کله له یوې او کله له بلې لارې تېرېږو. نږدې یو کال کېږي، خو د سړک چارې لا هم نه دي بشپړې شوې.»

په همدې حال کې، د تخار د ټولګټو ریاست مسئولین وایي چې د خواجه‌غار ـ دشت کلا سړک د جوړولو چارې په دوامداره توګه تر ځارنې لاندې دي.

د تخار د ټولګټو ریاست د تخنیک او سړک جوړونې آمر محمد ولي ویلي، د پروژې چارې د ټاکل شوي پلان له مخې روانې دي او ټاکل شوې ده چې د ۱۴۰۶ کال د حمل میاشتې پورې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

هغه زیاته کړې: «انشاءالله شاوخوا یوه نیمه میاشت وروسته به د دې سړک د اسفالت چارې پیل شي. داسې کومه تخنیکي یا اداري ستونزه نشته چې د پروژې د ځنډ سبب شوې وي.»

د خواجه‌غار ـ دشت کلا سړک د تخار په ماورای کوکچه سیمه کې له مهمو ارتباطي لارو څخه شمېرل کېږي. دا سیمه نږدې یو میلیون نفوس لري او د آی‌خانم بندر له لارې له مهمو ترانزیټي مسیرونو سره هم نښلول کېږي.

د ماورای کوکچې اوسېدونکي له کلونو راهیسې د معیاري سړک د نشتوالي له ستونزې شکایت کوي او باور لري چې د دې پروژې بشپړېدل به د تګ راتګ د اسانتیا، سوداګرۍ د پراختیا او اړینو خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي په برخه کې مهم بدلونونه رامنځته کړي.

د پاکستان او ایران ...

د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې، له خوشې شویو کسانو څخه ۲۳۲ تنه د ننګرهار د تورخم له لارې او ۱۱۲ تنه نور د کندهار د سپین بولدک له لارې افغانستان ته داخل شوي دي.

وزارت زیاته کړې چې دغو راستنو شویو کسانو ته له بشري مرستو وروسته خپلو اصلي سیمو ته د لېږد زمینه برابره شوې ده.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت ژمن دی ،ترڅو راستنېدونکو ته د مناسبو خدمتونو، اسانتیاوو او اړینو ملاتړونو د برابرولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

بل لور ته، د زندانونو چارو د سمون اداري ویلي، چې ۱۶۴ افغان وګړي، چې په ایران کې پر بند محکوم شوي وو، د دربیو ښځو په ګډون افغانستان ته انتقال شوي دي.

د زندانونو چارو د سمون اداري عمومي رئیس مولوي محمد یوسف مستري ویلي، اړوندو مسئولینو ته یې سپارښتنه کړې چې له ایران څخه د انتقال شویو بندیانو وضعیت ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د هغوی ستونزو ته رسېدنه وشي.

کندهار کې د اوبو د ځلورو ...

اغېزې راکمې شي.))

د سپین بولدک اوسېدونکي په خپله سیمه کې د اوبو د بندونو د جوړېدو هرکلی کوي او وایي: په وروستیو کلونو کې وچکالۍ دومره زیان رسولی، چې یو شمېر کورنۍ اړې شوې چې خپلې سیمې پرېږدي.

د سپین بولدک ولسوالۍ اوسېدونکي، حاجي برکت و ویل: ((د دغو بندونو جوړول کولی شي په کور دننه د بېځایه کېدو مخه ونیسي، خلکو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي او د هغوی ژوند ښه کړي.))

د سپین بولدک بل اوسېدونکي، محمد نسیم و ویل: ((دلته خلک په پراخه کچه بېکاره دي او د وچکالۍ له امله د بېځایه کېدو ګواښ هم زیات شوی دی. باید دا ډول پروژې لا زیاتې پلې شي.))

د دغو بندونو جوړېدو د کندهار د لرې پرتو ولسوالیو اوسېدونکو ته د لنډمهالو کاري فرصتونو زمینه هم برابره کړې ده.

مسئولین وایي، د اوبو د مهار دغه بندونه به د اوبو د زېرمه کولو او ښه مدیریت زمینه برابره کړي، د کرنې لپاره به اړینې اوبه برابرې کړي، د زراعتي حاصلاتو په زیاتوالي کې به مرسته وکړي او د څښاک پاکو اوبو ته به د خلکو لاسرسی هم زیات کړي.

ایران سره مذاکراتو کې ...

او د ایران اړوند هر ډول دیپلوماتیک پرمختګ به د سیمې له شریکانو سره په مشوره او همغږۍ تعقیب شي. د یادونې وړ ده چې د امریکا او ایران ترمنځ د روانو مذاکراتو په اړه د خلیج یو شمېر هېوادونو د سیمې د امنیت، د توغندیزو پروګرامونو او سیمه‌ییز نفوذ په تړاو خپلې اندېښنې څرګندې کړې دي، او واشنګټن هڅه کوي د خپلو سیمه‌ییزو متحدانو باور وساتي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاین مسئول: یما عرب
ویبپاڼې مسئول: ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

برېښنایی بڼه
تویټر

www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	۶۴.۶۰	اف
یو یورو	۷٤.۰۰	اف
یو پوند	۸۵.۲۰	اف
یو درهم	۱۷.۵۹	اف
زر ریال	۰٤۰	اف
زر کلداري	۲۲۳	اف
زر کلداري	۷٤۸	اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
۰٤:٤۲	۳٤°C	۳۷°C	٤۳°C	٤۳°C	٤٦°C	٤٦°C	۳۱°C	۰۷:۱۰

د اداري کمېسیون په غونډه کې د روغتیا او ښار جوړونې اړوند موضوعاتو په تړاو مهمې پرېکړې وشوې

د اداري کمېسیون غونډه پنجشنبې په ورځ د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ، د کمېسیون د غړو او د خصوصي روغتونونو د استازو په ګډون ترسره شوه.

په دې غونډه کې، لومړی ټاکل شویو کمېټو د خپلو ورسپارل شویو فعالیتونو او کړنو په اړه معلومات وړاندې کړل.

ورپسې، د کور او ښار جوړولو او عامې روغتیا وزارتونو او همداراز د خصوصي روغتونونو پر موضوعاتو بحث او هر اړخیزه ارزونه وشوه او په دې اړه لازم تصمیمونه ونیول شول.

په پای کې، په اجندا کې د شاملو نورو موضوعاتو د لا زیات تدقیق په موخه جلا کمېټو ته دنده وسپارل شوه.

بهرني لنډ خبرونه

وینزویلا کې د وروستیو زلزلو امله د مړو شمېر ۲۳۵ ته لوړ شو

د وینزویلا د روغتیا وزارت ویلي: په دې هېواد کې د وروستۍ د پرله پسې زلزلو له امله د مړو شمېر ۲۳۵ تنو ته لوړ شوی دی.

د الجزیرې خبري شبکې د راپور له مخې د یادو زلزلو له امله ګڼ شمېر کسان ټپیان شوي او سلګونه استوګنیزې ودانۍ ویجاړې شوي دي.

د راپورونو له مخې د پیښې په پایله کې لږترلږه ۲۵۰ استوګنیزې ودانۍ زیانمنې شوي یا په بشپړه توګه ویجاړې شوي دي.

د امریکا د ځمکپېژندنې اداري د راپور له مخې،د پنجشنبې په ورځ د ریښتر په کچه ۷.۲ او ۷.۵ درجې دوه پرلپسې قوي زلزلو د وینزویلا پلازمینې کاراکاس ته نږدې سیمې ولړزولې.

اسماعیل بقايي:

د امریکا متناقضې څرګندونې د دواړو هېوادونو ترمنځ بې‌باوري زیاتوي

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند اسماعیل بقایي د امریکایي چارواکو له لوري د جګړې د پای ته رسېدو د هوکړه‌لیک په اړه متناقضو څرګندونو ته په اشارې ویلي، چې امریکا هېڅکله له ایران سره ریښتینولي نه ده کړې او دا دول دریځونه د دواړو هېوادونو ترمنځ شته بې‌باوري لا پسې زیاتوي.

نوموړي ټینګار کړی، چې ایران له منطقي شکونو او اندېښنو سره سره، د ښه نیت له مخې ډیپلوماتیک بهیر ته داخل شوی او د هوکړې یادښت یې لاسلیک کړی دی.

بقایي زیاته کړې، چې د «تعهد په بدل کې تعهد» اصل ایجابوي، ترڅو دواړه لوري خپلې ژمنې په متقابل ډول عملي کړي او د هوکړه‌لیک د واضح متن خلاف له هر ډول تفسیرونو ډډه وکړي.

بل لور ته، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مارکو روبیو ویلي، چې د واشنګټن او تهران ترمنځ تخنیکي خبرې ښايي د جون په ۲۹ یا ۳۰مه نېټه په سویس کې بېرته پیل شي.

د الجزیرې د راپور له مخې، روبیو ویلي: «زما په باور تخنیکي ډله به د جون په ۲۹ یا ۳۰مه نېټه بیا سره وګوري. که تېروتنه ونه کړم، دغه مذاکرات به په سویس کې ترسره شي.»

د امریکا بهرنیو چارو وزیر:

ایران سره مذاکراتو کې به د خلیجي هېوادونو ګټې پام کې نیول کېږي

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ((مارکیو روبیو)) ویلي ، چې واشنګټن به له تهران سره په روانو مذاکراتو کې د فارس خلیج هېوادونو امنیتي او ستراتیژیکي ګټې په پام کې ونیسي.

د راپورونو له مخې، روبیو (کوېټ) ته د سفر پر مهال د خلیج سیمې متحدانو ته ډاډ ورکړی، چې امریکا به له ایران سره په خبرو کې له خپلو خلیجي شریکانو سره بشپړه همغږي وساتي او هغوی به د مذاکراتو له پرمختګونو او مهمو پرېکړو خبر کړي. نوموړي ټینګار کړی، چې امریکا به داسې هېڅ اقدام ونه کړي، چې د خپلو متحدانو امنیتي ګټو او سیمه‌ییز ثبات ته زیان ورسوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په وینا، د خلیج هېوادونو اندېښنې د واشنګټن لپاره مهمې دي ...

۳مخ

د لوړو زده‌کړو وزیر:

محصلین دې خپلې زده‌کړې د دوکتورا تر کچې لوړې کړي

د لوړو زده‌کړو وزیر، شیخ نداء محمد ندیم له لغمان پوهنتون څخه د محصلینو فراغت غونډې ته ویلي، چې وطن به لوستي او مسلکي کسان ابادوي او فارغ‌شوي محصلین دې خپلې زده‌کړې د دوکتورا تر کچې لوړې کړي.

د خبرپاڼې له مخې، چې ښاغلي ندیم د علم ارزښت ته په اشارې سپارښتنه کړې، چې محصلین دې د خپل مسلک ترڅنګ اسلامي عقیده او ایمان ټینګ وساتي.

لوړو زده‌کړو وزارت همداراز لیکلي، چې سږ کال د لغمان پوهنتون له انجنیري، کرنې، شرعیاتو، اقتصاد، ادبیات او او ښوونې او روزنې پوهنتون څخه ۶۲۲ محصلین فارغ شوي دي.

یاد وزارت په یوه بله خبرپاڼه کې د فراه پوهنتون له څلورو پوهنځیو ...

۳مخ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او یونیسف د ماشومانو او ځوانانو د فرهنګي پیاوړتیا لپاره همکاري زیاتوي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال د یونیسف له مسئولینو سره په لیدنه کې د ماشومانو او ځوانانو د فکري، فرهنګي او هنري ودې برخه کې د ګډو همکاریو پر پراختیا خبرې کړې دي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت خبرپاڼه کې راغلي، چې د دغه وزارت د فرهنګ او هنر معین مولوي عتیق‌الله عزیزي د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق اداري (یونیسف) له مسئولینو سره وکتل.

خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې لیدنه کې عزیزي د ماشومانو او ځوانانو د فکري، فرهنګي او هنري ودې برخه کې د ګډو همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې. عزیزي ویلي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت چمتو دی ، چې

د مطالعې فرهنګ عامولو، د عامه کتابتونونو د تجهیز، د ماشومانو لپاره د ادبي او فرهنګي آثارو د تولید، د لیکوالانو د ظرفیت لوړوني او د ګډو فرهنګي پروګرامونو پلي کولو برخو کې لا زیات کار وکړي.

نوموړي زیاته کړه، چې هره ورځ ګڼ شمېر زده‌کوونکي او ځوانان له عامه کتابتونونو، ملي آرشیف، ملي موزیم او هنرستان څخه لیدنې کوي او د هېواد د تاریخي او فرهنګي ارزښتونو په اړه معلومات ترلاسه کوي. یاد وزارت لیکلي، چې د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق (یونیسف) اداري مسئولینو د خپلو روانو فعالیتونو ...

۳مخ

د خواجه‌غار ـ دشت کلا سړک د جوړولو د چارو د چټکتیا غوښتنه؛ مسئولین د پروژې د بشپړېدو ډاډ ورکوي

د تخار د ماورای کوکچې سیمې اوسېدونکي وايي، نږدې یو کال کېږي ، چې د خواجه‌غار ـ دشت کلا سړک د جوړولو پروژه پیل شوې، خو د ماشینرۍ د کمښت او د چارو د ورو پرمختګ له امله یې تر اوسه د پام وړ پرمختګ نه دی کړی.

دوی له مسئولینو غواړي ، چې د دې مهمې پروژې د چارو چټکتیا ته پاملرنه وکړي، څو د سیمې د خلکو د تګ راتګ ستونزې هوارې شي.

د تخار یوه اوسېدونکي عزیزالله ویلي: «له بده مرغه له شپږو میاشتو ډېر وخت تېر شوی، خو د سړک د جغل اچونې چارې لا هم نه دي بشپړې شوې. دا پروژه د اسانتیاوو پر ځای خلکو ته لا زیاتې ستونزې رامنځته کړې دي.»

د سیمې یو بل اوسېدونکی فهیم‌الله وايي، د سړک د بیارغونې چارې ډېرې ورو روانې دي او د دومره لویې پروژې لپاره یوازې محدودې ماشینرۍ کارول کېږي.

د هغه په وینا، په ځینو برخو کې یوازې یو یا دوه اکسکاوېټرونه پر کار بوخت دي ، چې د کار سرعت یې ټکنی کړی دی.

بلخوا، د خواجه‌غار ـ دشت کلا پر لاره موټرچلوونکي هم شکایت کوي، چې د سړک د جوړولو د چارو ...

۳مخ

د پاکستان او ایران له زندانونو سلګونه افغانان هېواد ته راستانه شول

د پاکستان له زندانونو د ۳۴۴ افغان کډوالو د خوشې کېدو ترڅنګ، د زندانونو چارو د سمون اداري خبر ورکړی، چې ۱۶۴ افغان بندیان، د درېیو ښځو په ګډون، له ایران څخه افغانستان ته لېږدول شوي دي.

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت اعلان وکړ، چې د تېرې اوونۍ په ترڅ کې ۳۴۴ افغان کډوال، چې کورنۍ او مجرد کسان پکې شامل دي، د استوګنې د اسنادو د ستونزو له امله د پاکستان په زندانونو کې ساتل کېدل، خوشې شوي او هېواد ته راستانه شوي دي ...

۳مخ

کندهار کې د اوبو د څلورو بندونو د جوړولو چارې پیل شوې

د کندهار د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولین وايي، د دغه ولایت په سپین بولدک، ارغستان، خاکریز او ارغنداب ولسوالیو کې د ۳۰۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د اوبو د مهار لپاره د څلورو کوچنیو بندونو د جوړولو چارې پیل شوې دي.

د مسئولینو په خبره، دغه بندونه به له تخنیکي معیارونو سره سم په هغو سیمو کې جوړ شي، چې د سېلابونو او وچکالۍ له امله یې ډېر زیان لیدلی دی.

د کندهار د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس، دوست محمد سعید و ویل: ((دغه د اوبو څلور کوچني بندونه، چې درې سوه زره امریکایي ډالر لګښت پرې راځي، د کندهار په ارغنداب، سپین بولدک، ارغستان او خاکریز ولسوالیو کې جوړېږي او خلکو ته به په بېلابېلو برخو کې ګټه ورسوي. موږ د لویو بندونو د جوړولو لپاره هم کار پیل کړی، ترڅو کرنه پیاوړې، حاصلات زیات او د وچکالۍ ...

۳مخ

پکتیا کې دوه کورنۍ له ۳۵ کلنې دښمنۍ وروسته سره پخلا شوې

د پکتیا د جاني خېلو ولسوالۍ په یوه کلي کې د دوو کورنیو ترمنځ هغه بدي حل و فصل شوه، چې یادې کورنۍ یې له درې نیمو لسیزو راهیسې له ناخوالو او جنجالونو سره لاس او ګرېوان وې.

د دغې بدي د حل په موخه د یاد ولایت د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو ریاست مسئولینو، قومي مخورو او مصلحینو د دوامدارو ناستو او مجلسونو وروسته دواړه لوري روغې جوړې ته راضي کړل او په داسې حال کې یې پخلاینې ته چمتو کړل، چې د خپلمنځي اختلافاتو له امله یې پر مالي زیانونو سربېره د یوې مېرمنې په ګډون درې تنه وژل شوي او دوه تنه نور ټپیان شوي وو. د پخلاینې او سولې په مراسمو کې علماء کرامو، مسئولینو او قومي مشرانو هم ګډون کړی وو، چې د اخوت، ورورګلوۍ او عفوې په ښېګڼو یې خبرې وکړې. دوی دواړه لوري نېکبخته وبلل چې راتلونکي نسلونه یې له بدبختیو وژغورل او د سولې ژوند یې اختیار کړ. په پای کې په شخړه کې ښکېلو لورو یو بل ته ښښنه وکړه او د ورورۍ غېږې یې سره ورکړې. دوی په خپلو تېرو کړنو د پښېمانۍ ترڅنګ ژمنه وکړه، چې پاتې ژوند به په مینه او ورورولۍ سره تېروي.